۲


د افغانستان اسلامي امارت
ستره محکمه

امارت اسلامی افغانستان
ستره محکمه

قوهٔ قضائیه

د دارالانشاء عمومي ریاست
د تحریراتو آمریت
د متحدالمآلونو څانګه

د متحدالمآل ګڼه: ۱۸
نیټه: ۱۴۴۳/۱۱/۱۶ هق

عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر ☐


د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم مقام د دفتر ریاست مکتوب نمبر(۷۱۸ج۱)مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۲۵هق د جناب محترم امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله هدایت رارسیدلی چي متن د هدایت یي داسي دی:

(( د ستري محکمي اړوند مسئولینو د تغیر او تبدیل په صورت کي دي هر مسئول ټول اسناد، اجناس، وسائط او بندیان چي د هغه ځای مربوط وي په پوره وضاحت سره نوي ټاکل سوي مسئول ته سپاري، تر څو نوي مسئول ته په کارونو کي هیڅ ابهام پاته نه سي.

هیڅ مسئول دي نقلیه وسائط د ځان سره نه نقلوي کوم چي د هغه ځای مربوط دي.))

بناءً پورته ذکر شوی مکتوب د ستري محکمي عالي مقام د هدایت په اساس د دې متحدالمآل مل په یوه ورقه کي د ستري محکمې تمیزونو، دیوانونو مرافعه او ابتدائیه محاکمو ته واستول شو تر څو خپلې شرعي او اصولي کړنې د هغې په رڼا کي برابري کړي.

یاودنه: البته د ستري محکمي د عالي مقام د ځانګړي هدایت په اساس، د محاکمو هغه مسئولین چي له یو ځای څخه بل ځای ته تبدلیږي، د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست لخوا ورکړل شوي سیمکارتونه دې هم (د هغه پر ځای نوي ټاکل شوي) مسئول ته وسپاري ځکه چي دغه سیمکارتونه په ستره محکمه کي د شخص په نوم نه، بلکه د محکمې یا دیوان په نوم ثبت دي او په دې طریقه به د شخص په بدلیدو د محکمې نمبر نه بدلیږي.

په درنښت

۱۴/۱۱/۱۴۴۳هق

مفتي عبدالرشید "سعید"

د ستري محکمي

د دارالانشاء رئیس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء